تایپ کامپیوتری از ع . ق . فضلی

**ببرک کارمل :**

# د وحدت او اتحاد د تامین ضرورت


شماره چهل و سوم دوشنبه ۲۳ جدی ۱۳٤۷ ۱۳ جنوری ۱۹۶۹

رشد تولید در ساحه های دیگر

ببرک کارمل

دوحدت او اتحاد دتامین ضرورت

زموږ په وطن کې ضد ملی اوضد دموکراتیک اوسنی حاکمه نظام لـه استقرار نه کلونه تیریږی ، او ددی

زموږ په وطن کی د ضد ملی او ضد دموکراتیک اوسنی حاکمه نظام له استقرار نه کلونه تیریږی، او ددی په اړخ کی د افغانستان د وطنپالونکو او ترقی غوښتونکو قوتونو له خوا، ددی استبدادی نظام د طردولو او د یو ملی دموکراتیک نظام د استقرار لپاره پراخ مجاهدت شویدی. مګر له بده مرغه تر اوسه پوری تولو مجاهداتو ماته کړیده او ارتجاعی حاکمه طبقه هماغه راز خپل جابرانه تسلط ته دوام ورکوی. دلته یوه پوښتنه پیدا کیږی چه ددی مجاهداتو په جریان کی د وطنپالونکو او ترقی غوښتونکو د ماتی علتونه څه دی؟

باید وویل شی چه ددی مقالی هدف، د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو قوتو د نه کامیابیدو د تولو عینی او ذهنی عللو او عواملو طرح نده، بلکه دلته د پورتنۍ پوښتنی په ځواب کی یوازی ددی مسألی یو مهم عامل د راتلونکو مفصلو بحثونو لپاره د مقدمي په حیث څیرو.

دا د نه کامیابیدو او ماتی مهم علت چه زموږ په هیواد کی یی د مرتجعو او مستبدو حاکمه قدرتونو عمر اوږد کړیدی، هغه انشعاب، افتراق او نفاق دی چه د هیواد د ملی او مترقی نهضت په بهیر کی د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو قوتونو تر مینځ پیدا شویدی.

مشهوره ده چه (اګوست ببل) په ۱۹ پیری کی د آلمان د کارګری نهضت او د سوسیال دموکرات ګوند یو مشهور لاربنوونکی په رایشتاک (د آلمان پارلمان) کی، په ناڅاپی توګه د مجلس د بنی لاس د

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

نمایندګانو له چکچکو سره مخامخ شو. ده چه انتظار نه درلود د پارلمان مرتجع وکیلان دده وینا تائید کاندی له ځان سره یی په لوړ آواز وویل: «ای احمقه بوډا! بیا دی څه ګلان کرلی دی چه دا ځناوران خوښی کوی.»

واقعیت دادی چه کله کله کیدی شی د دښمن له عکس العمل نه په حقیقت پوه شو.

اوس ټولو ته ښکاره ده چه په ملی او بین المللی عرصه کی ټول ارتجاعی حاکمه محافل او امپریالیستان خڼګه په مترقی او ملی نهضت کی د اختلاف له وجود نه خوشحاله دی او له هغه نه پخپله ګټه بهره اخلی.

د اطلاعاتو او حقائقو سره سم همدا اوس د افغانستان حاکمه قدرت پر له پسی په دولت کی او له هغه نه د باندی د امپریالیستانو په توګه په ټول قوت او ضد انسانی شئونو په ټولو وسائلو هڅه کوی چه د هیواد د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو قوتونو تر مینځ اختلاف، انشعاب، تفرقه او نفاق زیات ژور او ډیر شدید کړی او د هغوی تر مینځ وحدت او اتحاد ناممکن کاندی او له خوشالی نه ورته وناځی. هغوی هره ورځ فعالیت کوی چه د تفتین، جاسوسی، افشا ګری او د آزادئ غوښتونکو او وطنپالونکو په صفونو کی د راز راز درواغو، تورونو او بی اعتمادیو د خپرولو په وسیله د خپل عمر د بقا لپاره حد اکثر استفاده وکړی، دا ځکه چه حاکمه ارتجاعی قدرت دا تجربه کړیده چه د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو، ملی او دموکراتیکو قوتونو یعنی (د خلکو د دوستانو) اتحاد او وحدت مستقیماً متناسب دی د هغوی (د خلکو د دښمنانو) له طرد او اضمحلال سره.

مګر د ملی او اجتماعی آزادی بخښونکو نهضتونو د تاریخ تجربه ښیی چه ستر هدف ته رسیدل یعنی په هیواد کی د ستمګر او استثمار ګر نظام پای ته رسول د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو قوتونو د وحدت او اتحاد عنصر ته ضرورت لری. خو له بده مرغه د مبارزی ددی پرمختلونکو قوتونو د وحدت او اتحاد کار زمونږ په هیواد کی، د نهضت د اوسنی مرحلی په سر کی په کلک بحران اخته شوی دی. او دا ددی لپاره چه د هیواد ترقی غوښتونکو وطنپالونکی قوتونه ددی پر ځای چه سترو ملی او اجتماعی هدفونو ته د رسیدو لپاره د اشتراک پر وجوهو تکیه وکړی او په اوسنیو اوضاعو او احوالو کی د وحدت او اتحاد چاره مقدمه وشمیری، زیاتره د افتراق او نفاق وجوه په نظر کی نیسی او د عمل وحدت نفی کوی.

په لوړ آواز اعلام کیږی چه: باید دی حیاتی او مهمی نکتی ته ژوره توجه وشی چه د ارتجاعی قوتونو د ناځاپی یرغل او تعرض د واقعی خطر په مقابل کی، بی اعتنایی چه هره شیبه د ربښتینو ملی او دموکراتیکو قوتونو په مقابل کی مقدور دی ډیره ستره اشتباه ده.



PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

لویه بدبختی داده چه د نهضت اوسنی انکشافات څومره چه د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو قوتونو تر مینځ نفاق او افتراق را پیدا کړیدی ددی په خلاف یی د حاکمه ارتجاعی طبقاتو تر مینځ د وحدت او اتحاد زمینه پیاوړی کړیده. باید وویل شی د حاکمه قدرت د ناڅاپی حملی خطر، له یوی خوا د خلکو د دوستانو د همدی افتراق او نفاق له کبله او له بلی خوا د خلکو د دښمنانو (ارتجاع او امپریالیزم) د اتحاد او زیاتیدونکی هوښیاری له کبله او ددی لپاره چه ورځ تر ورځی د نهضت د ضد تاکتیکونو په تجربو تجهیز کیږی، ډیر زیات شویدی.

ددی نفاق او افتراق مسلمه او طبیعی نتیجه داده چه خلکو ته ضرر رسیږی او د خلکو دښمنان ګټه کوی. ددی لپاره چه ددی نتیجی د تحقق واقعی علت له مینځه لاړ شی، ضرورت حکم کوی چه باید ژر تر ژره د اوسنی افتراق او نفاق په بحران بر شو او وحدت او اتحاد تأمین کړو.

د افغانستان د خلک دموکراتیک قوت په مبارزه کی د خپلی سختی ولی ویاړ جنبی وظیفی څخه، د وحدت او اتحاد د تأمین په خاطر د نرمی منونکو اصولو په چوکاټ کی خبر دی او له ټولو وحدت طلبو او اتحاد غوښتونکو قوتونو سره به په شجاعت او زړورتیا او له اصولی ګذشت سره یو ځای خپل سهم پدی زمینه کی ایفا کړی.

موږ کلک ایمان لرو چه کیدی شی د ملی او ولسی جرګو په توګه، د یو افغانی وحدت او اتحاد تر میز را وګرځیږی او د ګډو وجوهو د پیدا کیدو، د حد اقل مشترک پروګرام د طرحی د طرحی له لاری او د ارتجاع، استبداد استعمار او امپریالیزم پر ضد د مشترک عمل او وحدت عمل په وسیله د نفاق او افتراق په بحران باندی بری میسر شی.


(د لومړي مخ پاتي)

د وحدت او اتحاد تأمین

ګړندې چه د ترقي غوښتونکو او
وطنپالونکو ملي او د موکراتیکو
قوتونو یعني (د خلکو د دوستانو) اتحاد
او وحدت مستقیما عنا سبب دی
د عفوی (د خلکو د دښمنانو) له طرد او
اضمحلال سره.
مګر د ملي او اجتماعي آزادي
بخښونکو نهضتونو د تاریخ تجربه
ښیي چه سر هدف ته رسېدل یعني
په هیواد کی د ستمګر او استعمار
ګر نظام پای ته رسول د ترقي غوښتونکو
او وطنپالونکو قوتونو د وحدت او
اتحاد عنصر ته ضرورت لري. خو له
بده مرغه د مبارزی د دی پرمختلونکو
قوتونو د وحدت او اتحاد کار زموږ
په هیواد کی د نهضت د اوسنی مرحلي
په سرکی په کلك بحران اخته
شوی دی. او دادی لپاره چه د هیواد
ترقي غوښتونکی وطنپالونکی قوتونه
ددی پرځای چه سرو ملي او اجتماعي
هدفونو ته د رسېدو لپاره د اشتراك
پر وجوهو تکیه وکړی او په اوسنیو
اوضاعو او احوالو کی د وحدت او
اتحاد چاره مقدمه وشمیری، زیاتره
د افتراق او نفاق وجوه په نظر کی
نیسی او د عمل وحدت نفی کوی.
به لوړ آواز اعلام کیږی چه: باید
دی حیاتي او مهمی نکتي ته زوره توجه
وشی چه د ارتجاعي قوتونو د ناڅاپي
برغل او تعرض د واقعي خطر په مقابل
کی بی اعتنایی چه هره شیبه د
ربښتینو ملي او دموکراتیکو قوتونو په
مقابل کی مقدور دی ډیره ستره
اشتباه ده.
لویه بدبختي داده چه د نهضت
اوسنی انکشافات څومره چه د ترقي
غوښتونکو او وطنپالونکو قوتونو تر
مینځ نفاق او افتراق را پیدا کړیدی
ددی په خلاف یی د حاکمه ارتجاعي
طبقاتو ترمینځ د وحدت او اتحاد زمینه
پیاوړی کړیده. باید وویل شی د حاکمه
قدرت د ناڅاپي حملی خطر، له یوی
خوا د خلکو د دوستانو د همدی افتراق
او نفاق له کبله او له بلی خوا د خلکو
د دښمنانو (ارتجاع او امپریالیزم)
د اتحاد او زیاتیدونکی هوښیاری له
کبله او ددی لپاره چه ورځ تر ورځی
د نهضت د ضد تاکتیکونو په تجربو
تجهیز کیږی ، ډیر زیات شویدی.
ددی نفاق او افتراق مسلمه او
طبیعی نتیجه داده چه خلکو ته ضرر
رسیږی او د خلکو دښمنان ګټه کوی.
ددی لپاره چه ددی نتیجی د تحقق
واقعي علت له مینځه لاړ شی، ضرورت
حکم کوی چه باید زر تر زره د اوسنی
افتراق او نفاق په بحران بر شو او
وحدت او اتحاد تامین کړو.
د افغانستان د خلك دموکراتیك قوت



PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

تایپ کامپیوتری از ع . ق . فضلی

**یادداشت:**

ګران لوستونکی دی د پرچم متعددو ګڼو ته چه د ترقی غوښتونکو او وطنپالونکو ملی او دموکراتیکو قوتونو د وحدت او اتحاد د ضرورت په باره کی یی په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه په لس هاوو مقالی لیکلی دی، مراجعه وکړی. موږ بیا هم د پورتنیو قوتونو د وحدت او اتحاد په خاطر حیل علمی او مشخص بحثونه تعقیب کړو.

www.esalat.org

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com